مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۴۱** (از ١٦ الی ۲۳ عقرب ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

### د طالبانو خپل‌منځي اختلافات او د انشعاب تجربه

- د طالبانو د خپل‌منځي اختلافاتو شالید ........ ۴
- د طالبانو په ډله کې انشعاب ........ ۵
- د جګړې د ډګر ملاتړ ........ ٦
- له طالبانو جلا شوې ډله او داعش ........ ۷
- د طالبانو پر ځواک او د سولې پر دريځ يې اغېزې ........ ۸

### حکومت وحدت ملی، فاقد وحدت برنامه

- از اختلافات تا عدم هماهنگی ........ ۱۰
- اولویت رسیدن به صلح ........ ۱۰
- مبارزه با فساد و پروندهٔ کابلبانک ........ ۱۱
- مهاجرین افغان در آلمان ........ ۱۲
- بی‌برنامگی خارجی‌ها ........ ۱۲
- نتیجه گیری ........ ۱۳

## مقدمه

له تېرو څو میاشتو راهیسې د طالبانو په لیکو کې د خپل‌منځي اختلافاتو او انشعاب په اړه بېلابېل خبرونه خپرېدل؛ خو څو ورځې وړاندې یو شمېر طالب مشرانو چې له ملا اختر محمد منصور سره یې له پیله اختلافات درلودل، د ملا محمد رسول په نوم یو کس خپل نوی مشر اعلان کړ او په دې توګه د طالبانو ډله د لومړي ځل لپاره په دوو ډلو ووېشل شوه. دلته د طالبانو د پخواني مشر ملا محمد عمر د مړینې له اعلان وروسته، د دغې ډلې خپل‌منځي اختلافاتو ته کتنه، په پوځي ډګر کې له طالبانو څخه د نوې جلا شوې ډلې ملاتړ او د طالبانو پر ځواک او د سولې پر بهیر د دغې ډلې د جلا کېدو اغېزې لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې د ملي وحدت حکومت د مشرانو ترمنځ د همغږۍ د نشتوالي او پر ملي موضوعاتو کې د دوی د وېشلي دریځ په اړه لولئ. د ملي وحدت حکومت له تشکیل راهیسې وخت ناوخت د حکومت د مشرانو ترمنځ په ځینو موضوعاتو کې اختلافات ترسترګو کېږي او ورځ تر بلې مخ په زیاتېدو دي. تېره اوونۍ د کابلبانک د قضیې یوه مهم تورن خلیل الله فیروزي، چې په لس کاله بند محکوم شوی و، د حکومت له جګپوړو چارواکو سره څنګ په څنګ د یوه ښارګوټي پرانېسته وکړه. له دې پېښې وروسته ولسمشر اشرف غني سملاسي د دغه ښارګوټي جواز لغوه کړ او د دې موضوع په اړه یې د پلټنې امر وکړ. د دې ترڅنګ د حکومت مشران په ډېرو نورو موضوعاتو کې هم له جدي اختلافاتو او د همغږۍ له نشتوالي سره مخ دي.

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# د طالبانو خپل‌منځي اختلافات او د انشعاب تجربه



تېره اوونۍ په افغاني او نړیوالو رسنیو کې له طالبانو څخه د جلا شوې ډلې خبرونه په پراخ ډول خپاره شول. د طالبانو دغې نوې ډلې چې ځان "د افغانستان د اسلامي امارت عالي شورا" نوموي، په فراه ولایت کې د یوې غونډې پر مهال، ملا محمد رسول خپل مشر وټاکه.

له دې وړاندې د دغې نوې ډلې ډېری مشران د ملا اختر محمد منصور له مشرۍ سره مخالف وو؛ خو دغو اختلافاتو اوس عملاً له طالبانو څخه د یوې نوې ډلې جلا کېدو ته لاره پرانیستله.

په افغانستان کې طالبان یوازېنۍ ډله وه، چې له ټوټه کېدو او انشعاب سره نه وه مخ شوې؛ خو اوس داسې ښکاري چې دا ډله هم د خپل واحد صف ټوټه کېدل تجربه کوي. دا چې له طالبانو څخه دغه نوې جلا شوې ډله به، خپله د طالبانو پر ډله او له افغان حکومت سره د روغې جوړې پر پروسې څه اغېزې وښندي، دلته پرې بحث کوو.

## د طالبانو د خپل‌منځي اختلافاتو شالید

د طالبانو د پخواني مشر ملا محمد عمر د مړينې له افشا کېدو او د دغې ډلې د نوي مشر په توګه د ملا اختر محمد منصور له ټاکل کېدو سره، د طالبانو په لیکو کې ځینو اختلافاتو سر راپورته کړ. يو شمېر جګپوړو طالب مشرانو -لکه ملا محمد حسن رحماني، ملا عبدالرزاق او ملا محمد رسول- له ملا اختر محمد منصور سره له بیعت کولو څخه ډډه وکړه او خپله د طالبانو په وينا، د ملا اختر محمد منصور او د ده د پلویانو پرضد يې کمپاینونه پیل کړل[1].

دغو اختلافاتو هغه مهال نور هم زور واخیست، چې له نوي امير سره د ملا محمد عمر د کورنۍ د اختلافاتو خبرونه هم خپاره شول او د ملا محمد عمر کورنۍ (زوی يې ملا یعقوب او ورور يې ملا عبدالمنان هوتک) د ملا اخترمحمد منصور په مخالف لوري کې شامله ګڼله. خو وروسته د ملا محمد عمر کورنۍ د نوموړي د ځای‌ناستي په اړه خپل دریځ په یوه اعلامیه کې روښانه کړ. په هغه اعلامیه کې د ملا محمد عمر کورنۍ له يوې خوا د ګیلې په ډول ویل، چې د طالبانو د نوي مشر په ټاکلو کې باید د هغو علماوو او مجاهدینو نظر ته احترام وشي، چې د طالبانو د تحریک په بنسټ او ټينګښت کې يې اغېزناک رول لوبولی او له بلې خوا يې د طالبانو په لیکو کې له اختلافاتو او د کومې ډلې له ملاتړ څخه هم انکار وکړ او خپله بې‌طرفي يې اعلان کړه.

هغه مهال د ملا محمد عمر کورنۍ په خپل دریځ کې څرګنده کړه چې: «د هېڅ فريق د ګټې یا تاوان حمایت نه کوو، هغه که د ملا اختر محمد منصور په ارتباط وي او که د نورو فریقو په ارتباط وي». د طالبانو ترمنځ د ملا محمد عمر کورنۍ د بې‌پرې کېدو له کبله اختلافات نور هم په زیاتېدو شول او ملا اختر محمد منصور او د هغه مخالفې ډلې دواړو، د دغې کورنۍ د ملاتړ جلبولو لپاره هلې ځلې پیل کړې.

د طالبانو د نظامي کمیټې پخواني مشر ملا عبدالقیوم ذاکر هم، چې څو میاشتې وړاندې يې له خپلې دندې استعفا کړې وه او د ملا اختر محمد منصور مهم رقیب ګڼل کېده او داسې ګنګوسې هم وې، چې دی د طالبانو له نوي مشر سره مخالفت لري، د ۲۰۱۵ کال د جولای میاشتې په ۳۱مه په یوه رسمي اعلامیه کې په دې اړه خپل دریځ څرګند کړ او د اعلامیې په یوه برخه کې يې راغلي وو: «دا ډول خبرې هېڅ حقیقت نه لري... په

[1] په دې اړه وګورئ، د طالبانو د رهبری شورا غړي ملا عبدالقیوم ذاکر اعلامیه، پرلیکه بڼه:
http://shahamat-english.com/letter-of-clarification-by-the-respected-mullah-abdul-qayyum-zakir-a-member-of-leadership-council-of-islamic-emirate-of-afghanistan/

خپل ټول توان سره خدمت کوم... تر بل هر چا به ښه اطاعت کوم»[2]. د ملا عبدالقيوم ذاکر دغه وضاحتلیک تر ډېره د ملا اختر محمد منصور دريځ پیاوړی کړ.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مشر طیب آغا هم دغه مهال له خپلې دندې استعفا ورکړه. ده په خپل استعفالیک کې چې په رسنیو کې خپور شو، د ملا محمد عمر مرگ تر دوو کلونو پورې پټ ساتل او له هېواده بهر د نوي امیر ټاکنه "تاریخي اشتباه" وبلله. ترڅنگ يې ده د طالبانو ترمنځ موجودو اختلافاتو ته په اشارې سره وويل، چې دی به د «طالبانو په موجوده خپلمنځي موضوعاتو کې د هېڅ لوري طرفداري ونه کړي»[3].

د طیب آغا له استعفا وروسته د طالبانو یوه بل جگپوړي مشر ملا عبدالمنان نیازي، چې د ملا اختر محمد منصور په مخالف لوري کې و، د اختلافاتو د ختمولو په اړه وويل، چې دوی به ډېر ژر د علماوو یوه شورا راوغواړي او هغوی به د طالبانو د خپلمنځي اختلافاتو په اړه پرېکړه‌وکړي[4]. پر دې سربېره د طالبانو ویاند هم څو ځله له رسنیو سره په خبرو کې وويل چې د طالبانو خپلمنځي اختلافات مخ په ختمېدو دي؛ خو د طالبانو ترمنځ دغه خپلمنځي اختلافات تراوسه هم ختم نه شول او اوس يې له طالبانو څخه د یوې ډلې د جلا کېدو بنه خپله کړه.

## د طالبانو په ډله کې انشعاب

د افغانستان په معاصرو ډلو کې طالبان یوازېنۍ ډله وه، چې انشعاب او ټوټه کېدل يې نه وو تجربه کړي؛ که څه هم له دې ډلې څخه د ملا معتصم آغاجان په څېر یو شمېر کسان په بېلابېلو وختونو کې جلا شول او د دې ډلې د وېشل کېدو لپاره ډېرې هلې ځلې هم وشوې؛ خو بیا هم طالبان وتوانېدل چې خپل صف له ټوټه کېدو وژغوري.

[2] د ملا عبدالقيوم ذاکر د وضاحتلیک لپاره، وگورئ:
http://alemara1.org/?p=21987

[3] په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر پخواني مشر طیب آغا د بشپړ استعفالیک لپاره، پرلیکه بڼه وگورئ:
http://shahamat-english.com/letter-of-clarification-by-the-respected-mullah-abdul-qayyum-zakir-a-member-of-leadership-council-of-islamic-/emirate-of-afghanistan

[4] په دې اړه وگورئ، د آزادی راډیو دغه راپور:
http://gandhara.rferl.org/content/afghanistan-pakistan-taliban-differences/27170641.html

اوس له طالبانو څخه دغې نوې جلا شوې ډلې په رسمي ډول خپل نوی مشر ملا محمد رسول د افغانستان دننه په فراه ولایت کې وټاکه؛ چې ځینې رسنۍ دغه ځای د هرات شینډنډ ولسوالي بولي. ملا محمد رسول خپل درې نظامي مرستیالان او یو سیاسي مرستیال هم اعلان کړل، چې ملا باز محمد حارث، ملا منصور دادالله او ملا شیرمحمد اخندزاده یې نظامي مرستیالان او عبدالمنان نیازی یې سیاسي مرستیال دی.

## د جګړې د ډګر ملاتړ

په بنسټیزه توګه د طالبانو ځواک د دوی د علماوو، د علماوو شورا، نظامي قومندانانو او جنګیالیو پر ملاتړ متکي دی. هره ډله چې له دوی څخه ډېر ملاتړ ولري، ځواکمنه ډله به وي.

دا مهال له ملا اختر محمد منصور سره د ډېری علماوو ملاتړ دی او تقریباً د طالبانو له ټولو والیانو، قوماندانانو او جنګیالیو څخه یې "بیعت" ترلاسه کړی دی. د دې ترڅنګ ملا اختر محمد منصور د حقاني شبکې مشرسراج الدین حقاني هم خپل مرستیال وټاکه او په دې توګه یې په نظامي ډګر کې د دغې ځواکمنې ډلې ملاتړ هم ترلاسه کړ. له دې وراخوا، ملا اختر محمد منصور د ملا عبدالقیوم ذاکر او د ملا محمد عمر د کورنۍ د ملاتړ په ترلاسه کولو هم بریالی شو او دا هغه څه دي، چې د ملا اختر محمد منصور دریځ یې پیاوړی کړی دی.

که څه هم له طالبانو څخه جلا شوې ډله په نظامي ډګر کې د ډېرو طالب جنګیالیو ملاتړ له ځان سره نه لري؛ خو بیا هم په دې برخه کې د ملا منصور دادالله په څېر کسان په ځینو ولایتونو کې طالبانو ته ګواښ بلل کېدلای شي. له همدې کبله ده، چې په فراه ولایت کې د دغې جلا شوې ډلې له رسمي اعلان څخه وروسته، د ملا اختر محمد منصور پلوي طالبانو او علماوو یوه غونډه وکړه او یو ځل بیا یې د طالبانو د مشر په توګه له ملا اختر محمد منصور څخه ملاتړ اعلان کړ[5]. دلته یوه خبره دا هم د یادولو ده، چې ملا منصور دادالله به په نظامي ډګر کې د طالب جنګیالیو ډېر ملاتړ ترلاسه نه شي کړای؛ ځکه دی د طالبانو د پخواني مشر ملا محمد عمر له خوا له دندې ګوښه شوی و او د ملا محمد عمر په یوه غږیز پیغام کې یې کړنې غندل شوې هم دي.

[5] د دغې غونډې د راپور لپاره، وګورئ:
http://alemara1.org/?p=34049

په بل اړخ کې ملا محمد رسول د مشهورې جهادي کورنۍ مولوي نصرالله منصور زوی شیرمحمد اخندزاده هم خپل نظامي معاون ټاکلی، ترڅو د خپلې ډلې لپاره یو څه ملاتړ پیدا کړي؛ خو د یوه خبر له مخې، د مولوي نصرالله منصور کورنۍ له دغې نوې ډلې سره خپله اړیکه رد کړې او ویلي یې دي، چې دوی «هغه کوښښونه په کلکه ردوي چې په جهادي صف کې د انشقاق سبب گرځي».

## له طالبانو جلا شوې ډله او داعش

د ملا محمد عمر د مړینې له اعلان څخه وروسته، په ځینو رسنیو کې له داعش ډلې سره د یو شمېر طالب قوماندانانو د یو ځای کېدو په اړه هم خبرونه خپاره شول. له دې جملې څخه یو هم منصور دادالله و چې رسنیو یې له داعش ډلې سره د یوځای کېدو خبرونه خپاره کړل؛ خو خپله ملا منصور دادالله بیا دغه خبرونه او اوازې رد کړې[6].

له طالبانو څخه د دغې جلا شوې ډلې له اعلان سره سم، په نړیوالو مطبوعاتو کې له داعش سره د دغې ډلې د یوځای کېدو په اړه هم خبرونه خپاره شول؛ خو د دغې نوې ډلې سیاسي مرستیال او ویاند عبدالمنان نیازي له الجزیرې سره په یوه مرکه کې له داعش سره د دوی تړاو رد کړ او زیاته یې کړه، چې «موږ به هېڅکله هم له داعش سره یوځای نه شو، ځکه زموږ شالید، تاریخ او ایډیالوژۍ له یو بل سره توپیر لري او هېڅ مهال به هم له داعش څخه مرسته ونه غواړو[7].»

که څه هم له طالبانو څخه جلا شوې ډله ځان له داعش سره تړلی نه بولي؛ خو د ملا اختر محمد منصور ډله بیا د دغې جلا شوې ډلې د مشرانو له جملې څخه ملا منصور دادالله له داعش ډلې سره تړلی بولي او په زابل کې د طالبانو وروستۍ جگړې چې لسگونه کسان پکې ووژل شول، د جلا شوې ډلې پرضد نه، بلکې د داعش او منصور دادالله پر ضد بولي، چې د دوی په وینا له داعش سره یې اتحاد کړی دی[8].

---

[6] ملا منصور داد الله له داعش سره د یوځای کېدو خبر ردوي، وگورئ د پژواک خبري اژانس دغه خبر:
http://www.pajhwok.com/en/2015/09/17/disaffected-dadullah-denies-joining-daesh-after-rumors

[7] له الجزیرې سره د عبدالمنان نیازي د مرکې اوربدلو لپاره لاندې لینک پرانیزئ:
http://www.aljazeera.com/news/2015/11/deadly-taliban-inter-fighting-erupts-afghanistan-151108190506338.html

[8] د زابل د جگړې په اړه د طالبانو رسمي وضاحت دلته ولولئ:
http://alemara1.org/?p=34117

داسې ښکاري چې په راتلونکي کې له داعش ډلې سره د طالبانو د دغې نوې جلا شوې ډلې د یوځای کېدو یو څه احتمال شته دی او دغه احتمال به هغه مهال نور هم قوي شي، چې دا ډله د ملا اختر محمد منصور د ډلې له خوا وځپل هم شي.

## د طالبانو پر ځواک او د سولې پر دریځ یې اغېزې

له طالبانو څخه د دې ډلې جلا کېدل به د طالبانو پر یووالي او پوځي ځواک یو څه اغېزه وکړي. دا چې په لومړي ځل د ژورو اختلافاتو له کبله یوه ډله له طالبانو څخه د جلا کېدو اعلان کوي، نو طالبان به هڅه وکړي چې دا ډله وځپي او د داعش ډلې په څېر به له دې جلا شوې ډلې سره هم د وسلې په ژبه خبرې وکړي. په دې توګه به دوی د افغان حکومت، بهرنیو ځواکونو او داعش ډلې ترڅنګ له دغې ډلې سره هم په یوه نوې جګړه کې ښکېل شي.

د سولې په برخه کې به هم دغه ډله وتوانېږي، چې د ملا اخترمحمد منصور پر تګلارې اغېزه وښندي؛ له همدې کبله دغې نوې ډلې وار له مخه د سولې پروسې د بیا پیلولو غوښتنه کړې ده. البته یو شمېر شنونکي په دې اند هم دي، چې د دغې نوې ډلې تر شا د سیمه‌ییزو استخباراتي کړیو لاس دی، ترڅو دغه ډله د ملا اختر محمد منصور پرضد د فشار د یوې آلې په توګه استعمال کړي.

په بل اړخ کې، ځینې کسان بیا په دې باور دي، چې د طالبانو په منځ کې دغه انشعاب به د طالبانو د کمزوري کېدو پیلامه وي او په دې توګه به هېواد د سولې په لور ولاړ شي؛ خو که د طالبانو د ډلې له وېشل کېدو وروسته دا ډله کمزورې هم شي، د سولې لپاره شته هیلې به نورې هم پیکه شي او جګړه به لا ډېره پېچلې شي.

# حکومت وحدت ملی، فاقد وحدت برنامه



در طول بیش از یک سالی که از عمر حکومت وحدت ملی می‌گذرد، این حکومت نه تنها مصداق وحدت نیست بلکه تناقض و اختلاف در موقف اعضای آن در مسایل مهم و سرنوشت‌ساز کشور، نشان از اختلاف عمیق میان اعضای این حکومت دارد.

به همین دلیل هر زمانی که یکی از اعضای آن لب به سخن می‌گشاید و وعده‌ای به ملت می‌دهد، مردم این وعده‌ها را جدی نمی‌گیرند، زیرا ممکن است عضو دیگر با سخنی متناقض، این وعده را رد کند.

اما این تنها حکومت وحدت ملی نیست که با این بیماری دست به‌گریبان است، بلکه کشورهای خارجی نیز در رابطه به افغانستان به مشکل مشابه مواجه اند و بازتاب همین سردرگمی موجب چنین وضع شده است. خارجی‌ها گاهی از خروج از این کشور و زمانی هم به ادامهٔ حضور خویش، این تصور را به میان می‌آورند که جامعهٔ جهانی نیز در افغانستان به شدت دچار سردرگمی است.

## از اختلافات تا عدم هماهنگی

اختلافات عمیق در میان حکومت وحدت ملی ناشی از بی‌برنامه‌گی است که موجب شده تا این حکومت در مسیری سراپا ابهام گام بردارد. مردم افغانستان گمان داشتند با کنار رفتن حامدکرزی از قدرت و به قدرت رسیدن اشرف غنی یعنی کسی که در دوران کمپاین انتخابات ریاست جمهوری، بیشترین تاکید را بر شایسته‌سالاری و برنامه‌محوری حکومتش داشت، آیندۀ روشن‌تری را در افغانستان شاهد خواهند بود.

اما با گذشت زمان، عدم هماهنگی در رفتار و کردار اعضای این حکومت بیشتر گردید. امروز کمتر کسی در افغانستان وجود دارد که به وعده‌های حکومت باور نماید و این مسئله موجب شده که فاصله میان دولت و مردم حتی از دوران حامدکرزی نیز بیشتر گردد.

## اولویت رسیدن به صلح

رئیس‌جمهور غنی در جریان کمپاین انتخاباتی، رسیدن به صلح را نخستین اولویت حکومتش در صورت رسیدن به قدرت خواند، اما بعد از به قدرت رسیدن، به زعم خودش از آسان‌ترین راه یعنی دادن امتیاز به پاکستان برای رسیدن به صلح تلاش نمود. دو نشست که اولی در ارومچی و دومی در مری در نزدیک اسلام‌آباد صورت گرفت دست‌آوردی نداشت. این سیاست که به قیمت سرد شدن روابط با هندوستان روی دست گرفته شد، بعد از افشای خبر مرگ ملا محمد عمر به شکست کامل مواجه گردید و روابط میان کابل و اسلام‌آباد به شدت رو به تیره‌گی نهاد.

اختلاف بر سر امضای توافق‌نامۀ استخباراتی با پاکستان در میان اعضای حکومت مشکل‌آفرین شد و داکتر عبدالله رئیس اجرائیۀ حکومت از این سیاست حکومت انتقاد کرد. جناح اشرف غنی مجبور شد تا امضای هرگونه تفاهم‌نامه با پاکستان را انکار نماید و نشانی شدن یک سند به منظور تبادلۀ اطلاعات را فقط یک قدم ابتدائی در جهت اعتمادسازی میان دو کشور عنوان نماید.

در حالیکه اشرف غنی مخالفین مسلح دولت را (مخالفین سیاسی) می‌خواند و راه مذاکره با آن‌ها را باز می‌گذارد، اما مشاور ارشد وی احمدضیا مسعود می‌گوید که تلاش در جهت صلح با مخالفین دولت، عبث و ضیاع وقت است.

صلاح الدین ربانی وزیر خارجهٔ افغانستان در ملاقات با دینگ شیجون نمایندهٔ خاص حکومت چین برای افغانستان و پاکستان گفت که حکومت افغانستان دریچهٔ صلح را به روی کسانی که خواهان بازگشت به زندگی مسالمت‌آمیز اند، باز گذاشته اما با عناصر و افرادی که برهم زنندهٔ امنیت و آرامش جامعه اند می‌جنگد.

به عبارهٔ دیگر حکومت با مخالفینی که تسلیم می‌شوند، صلح می‌کنند اما با آن‌هایی که می‌جنگند، خواهد جنگید. در حالیکه صلح باید میان حکومت و گروهی که می‌جنگند صورت گیرد.

## مبارزه با فساد و پروندهٔ کابلبانک

مبارزه با فساد شعار مهم دیگری بود که اشرف غنی با سردادن آن، مردم را در جریان انتخابات به جانبداری از خود فراخواند. در نخستین اقدام علیه فساد، وی به نهادهای قضایی وظیفه داد تا دوسیهٔ بزرگترین فساد مالی در تاریخ افغانستان یعنی دوسیهٔ کابلبانک را، بار دیگر مورد بررسی قرار دهند.

هرچند بازنگری در این دوسیه، بیشتر شکل نمادین داشت و اشرف غنی می‌خواست با بازگشایی پروندهٔ کابلبانک، جامعهٔ جهانی را قناعت دهد؛ زیرا جامعهٔ جهانی کمک‌های خود به افغانستان را به مبارزه علیه فساد و به خصوص حل دوسیهٔ کابلبانک، مشروط کرده بود. اما مردم افغانستان ناگهان در اخبار تلویزیون دیدند که خلیل الله فیروزی بزرگترین اختلاس کنندهٔ کابلبانک که به حکم محکمه به ده سال حبس تنفیذی محکوم شده است، آزادانه در کنار اراکین عالی‌رتبهٔ دولت از جمله احمدضیا مسعود نمایندهٔ رئیس‌جمهور در امر حکومت‌داری و وزیر شهرسازی ایستاده و شروع کار یک شهرک بنام شهرک "هوشمند" را افتتاح می‌کند!

اعتراض رسانه‌ها موجب شد تا رئیس‌جمهور قرارداد این شهرک با فیروزی را لغو نماید، در حالیکه در این ماجرا افراد مربوط به شخص رئیس‌جمهور دست داشته اند. وقتی در این رابطه از وزیر شهرسازی سوال شد وی گفت که مشاور حقوقی رئیس‌جمهور سه مکتوب به وی فرستاده و از او خواسته است تا این قرارداد را با فیروزی امضا نماید.

سوال این است که مشاور حقوقی رئیس‌جمهور به کدام حق، حکم محکمه را زیر پا نموده و این شخص را نه تنها از زندان آزاد کرده، بلکه دستور داده که با وی قراردادی به ارزش ده‌ها ملیون دالر امضا گردد؟ اگر این کار تصمیم شخصی خودش بوده، باید محاکمه گردد اما اگر به دستور رئیس‌جمهور دست به این کار زده است، اشرف غنی باید به مردم افغانستان و جامعهٔ بین‌المللی در این مورد جوابگو باشد.

## مهاجرین افغان در آلمان

وزیر مهاجرین و عودت کنندگان در مورد افغان‌هایی که با قبول خطر مرگ خود را به اروپا رسانیده‌اند، می‌گوید که بازگشت این افراد باید مطابق به کنوانسیون‌های بین‌المللی در مورد مهاجرین باشد و نباید به زور به افغانستان بازگردانیده شوند، اما رئیس‌جمهور کشور می‌گوید که حکومت آلمان حق دارد تا این مهاجرین را نپذیرد و به افغانستان بازگرداند.

## بی‌برنامگی خارجی‌ها

به نظر می‌رسد که کشورهای خارجی نیز در افغانستان به عین مشکل مواجه اند. وضع نابسامان افغانستان موجب شده، تا کشورهای خارجی نیز در مورد اینکه سیاست‌های آیندهٔ شانرا در افغانستان چگونه عیار سازند، دچار سردرگمی اند.

چهارشنبه 4 نوامبر جف دیویس سخنگوی پنتاگون در واشنگتن در یک نشست خبری در جواب سوال خبرنگاران مطالبی گفت که بازتاب وسیعی در مطبوعات بین‌المللی داشت. وی گفت که واشنگتن طالبان افغان را یک شریک مهم در روند آشتی در این کشور می‌داند و این گروه را تروریست به حساب نمی‌آورد. امریکا قصد ندارد تا طالبان را هدف قرار دهد. وی فقط گروه‌های القاعده و داعش در افغانستان را به عنوان گروه‌هایی که هدف واشنگتن اند، نام برد.

سه روز بعد ازاین کنفرانس خبری، دفتر رسانه‌های وزارت دفاع امریکا اعلام داشت که این سخنان سخنگوی وزارت دفاع دقیق نبوده است. در توجیه این سخن گفته شد که منظور آقای دیویس این بوده که طالبان برای مشروعیت یافتن، راهی جز پیوستن به پروسهٔ صلح ندارند.

هرچند وزارت دفاع امریکا اظهارات سخنگوی خود را توجیه و یا تصحیح کرد، اما به یاد داریم که در دسامبر سال 2014 سخنگوی قبلی پنتاگون گفت که کشورش از دوم جنوری سال 2015 اعضای گروه طالبان را در صورتی هدف قرار خواهد داد که اقدامات آن‌ها تهدید مستقیم علیه امنیت امریکا باشد.

## نتیجه گیری

نتیجه گیری این بحث می‌توان کوتاه باشد. با توجه به این وضع، امیدی به بهبود وضع در افغانستان نمی‌رود و عامل این وضع نیز مشکل ساختاری در حکومت وحدت ملی است. براندازی حکومت راه حل بحران نیست، بلکه می‌تواند دامنۀ این بحران را گسترده‌تر سازد. هرچند ایجاد اصلاحات در این حکومت، می‌تواند تا حدی بحرانی را که کشور به آن مواجه است مهار نماید، اما چگونه باید این کار صورت گیرد؟ کلید این کار بازهم به دست همان‌هایی است این حکومت را به میان آوردند.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امين، رئيس مرکز مطالعات استراتژيک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژيک ومنطقوی: (+93) 747575741 drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.